# سرتاسري يووالي سره
# د غويي د اتمې او اوومې ناورين رامنځته كوونكي
# له منځه يوسو!

پنځه ديرشت كاله وړاندې د روسيې سوسيال امپريالستانو د خپلو خلقي او پرچمي چوپړانو په لاس د غويي د اوومې كودتا په ترسره كولو سره يې زموږ هيواد په ناورينونو كې ډوب كړ، چې تراوسه زموږ ښارونه او كلي د هغې په اور كې سوځي.
د خلقي او پرچمي هيوادپلورو دا هڅه چې وكولای شي د فاشيستي زندۍ او سازمان شوي ترور له لارې خپل شتون ته دوام وركړي، ليكن د دغې رژيم د رهبرانو د انتظار برعكس، د دوی پروړاندې د خلكو كركه او پاڅونونه ډير شول.
د خلقي او پرچمي بالكيانو د شتون د تضمين لپاره د روسي نيواكګرو د شپږم جدي يرغل، چې په زړه بوږنوونكي توګه د افغانستان د كلو او بانډو بمباريو، د خلكو پرله پسې وژنې، نيونې، د لسګونو زرو بې ګناه خلكو اعدام او ربړونې، په زرګونه ماينونو د خښولو، د خلكو عقيدو او فرهنګ ته سپكاوی او د هيواد د نفوس يو دريمه برخه پاكستان او ايران ته د مهاجر كيدو سره مل و، زموږ د خلكو د مقاومت غورځنګ يې قوي او پراخه كړ.
په همدې مهال كې د امريكا نيواكګر دولت د طلايي موقع په غنيمت سره، چې هغه ته يې لاسرسی موندلی و، له اقيانوس څخه ها خوا د خپل استراتيژيک سيال لپاره د افغانستان د جګړې ويتنامي كولو سياست او دغه راز د افغانستان له خلكو څخه د جګړې د مقاومت نوښت د غلا كولو او د خپلو ناوړو موخو لپاره هغې ته اړخ وركول، د جبهې ترشا يعنی په پاكستان كې د مهاجرينو كمپونه يې د خپلو شيطاني موخو لاندې ونيول.
دغه د محرومو خلكو د وينې سوداګر چې پر خپلو مادي، نظامي، لوژستيكي او پر تبليغاتي امكاناتو ولاړ وو، په دې وتوانيدل چې د روسيې پروړاندې د مقاومت غورځنګ رهبري له زموږ خلكو څخه غلا او هغه يې د يو شمير خاينو، بنسټپالو، جاهلو او فاسدو پورې وتړله.
د ۱۳۷۱ كال د غويي پر اتمه د نجيب ګوډاګی رژيم، بې وزلو ليكن د زړه ورو خلكو څوارلس كلنې سرښيندونو مات كړ، زموږ ملت د خپلواكۍ، آزادۍ، عدالت او سوكالي ترلاسه كولو پرځای خاورو سره خاورې شو او ورپسې د روسانو او د دوی د چوپړانو د ماتې تشه د نړيوال امپرياليزم په فرمان او د پاكستان آی. اس. آی، د ايران واواک، د عربستان المباحث العامه او نورو مداخله كوونكو په تفاهم سره د پاكستاني اووه او ايراني اته هيوادپلورو تنظيمونو له لارې د خلقي او پرچمي جنايتكارانو پاتې شونې ته په لاس وركولو سره ډكه شوه. په دې توګه د برياليتوب جشن او د ملت وياړونه چې زبرځواک يې په ګونډو كړی و، د يو شمير مذهبي غلامانو لخوا پر ملي وير بدل شو. واقعي مقاومت كوونكو خپل ټوپک ليرې كړ، ليكن د دين او مذهب دكاندارانو د «جهاد» په نوم پر غلا او لوټماري پيل وكړ.
د جنايت كاره تنظيمونو لپاره سپيڅلې او پاكه دنده د كابل ښار ويجاړول وو، څو خپله نمک حلالي، وفاداري او فرمان منل نندارې ته وړاندې كړي، د كابل د ويجاړيدو او سوځولو او د هيواد د دفاعي، امنيتي، سياسي، اقتصادي او فرهنګي بنسټونو د منځه وړلو امر د پاكستان د آی. اس. آی رييس جنرال اختر عبدالرحمن لخوا صادر او د ګلبدين، رباني- مسعود، سياف، فهيم، دوستم، مزاري، محسني او دوی ته ورته د نورو لخوا عملي شو. آن تردې چې رباني د پاكستان د آی. اس. آی مخكينی رييس دعوت كړ چې كابل ته راشي او د هغه ترځنګ د چارو اداره په لاس كې ونيسي.
دغو جنايتكارانو د څوكيو، غنيمت او ځواک ترلاسه كولو لپاره يوازې د لوټمار او جهاد له لارې له اويا زرو څخه د ډيرو بې ګناه كابليانو وينه توی كړه؛ ۸۰ سلنه دولتي او غير دولتي ودانۍ يې ونړولې او ټول دفترونه، دولتي تاسيسات او ملی شتمنۍ يې لوټ كړلې؛ د فرمان له لارې پرچمي او خلقي جنايتكاران يې وبخښل؛ د يرغليزې جګړې ځاني او مالي تاوان يې روسيې ته وبخښو؛ فرهنګي او تاريخي آثار يې لوټ او يا په بازارونو كې ليلام كړل او يو شمير يې پاكستاني جنرنيلانو ته ډالۍ كړل؛ په ښكاره توګه يې د خلكو په پت او ناموس تيری وكړ؛ قومي او مذهبي اختلافاتو ته يې په بې ساري توګه لمنه ووهله؛ له جګړې څخه د رامنځته شويو ټپونو د پټی پرځای، پر هغې يې مالګه ودوړوله او په ټوليزه توګه د روسانو او د دوی د نوكرانو په پرتله زموږ هيواد يې د ډيرې ويجاړۍ او ناوړه ناورين پر لور يوړو او په دې توګه هغه نقش چې سي. آی. ای او آی. اس. آی د تنظيمونو لپاره په پام كې نيولو و، يو په يو يې ترسره كړ.

په دې لامل د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» د غويي (ثور) اتمه د ژغورنې ورځ نه، بلکې توره ورځ او د افغانستان د تاريخ پيغور ګڼي او هر کال دغه د وير او تورې ورځې په توګه محکوموي.

د کرکې ډک او جنايتکارو تنظيمونو څخه د بيزارۍ چاپيريال د امريکا او پاکستان لپاره زمينه چمتو کړه، څو افغانستان کې د طالبانو او د القاعدې د پروژې له لارې د خپلو برنامو بله پاڼه عملي کړي. هغوی د طالبانو تر نوم لاندې د منځنيو پيړيو موجودات هيواد ته رانيستل، د هغوی له لارې يې د تنظيمي ځيرونکو ځناورو خپور حاکميت چې واقعيت سره تاريخ يې بشپړ شوی و، له منځه يوړو. د دغو پنځوکلونو په لړکې و چې په زرګونه اخواني تروريستان له مختلفو اسلامي هيوادونو څخه د افغان عربو په نوم افغانستان ته راغلل، څو وکولای شي زموږ هيواد د مذهبي وحشت، ترور او د جنون په مرکز بدل کړي. د امريکا لپاره د دغې جنايتکارې ډلې کارونه او د يولسم سپتمبر پيښه ښه لاسته راوړونه وه، څو له ناټو سره په همغږۍ زموږ هيواد د «تروريزم پروړاندې د مبارزې» په نوم نيواک کړي.




زموږ پر هيواد باندې د امريکا نظامي يرغل سره جهالت کسبه طالبان په ظاهري بڼه له ډګر څخه هاخوا شول او پرځای يې د کرزي ګوډاګی رژيم منځته راوړل شو، وينې څښونکي رهبران او ناوړه جګړه ماران چې په کلونو يې افغانستان او خلکو ته درد ورکړی و، يو ځل بيا يې نيکټايي او دريشي ورپه غاړه کړه او له نوې ټاپې سره ميدان ته ننوتل. يولس کاله کيږي چې زموږ هيواد د امريکا زبرځواک  او د دې د ځلوېښتو څخه د ډېرو متحدينو په ولکه کې ګير دی؛ زموږ خپلواکي تر پښو لاندې او عملاً افغانستان د بيلابيلو هيوادونو د جاسوسۍ د سياليو په مرکز بدل شو. د «غويي اتمې» رهبران چې تر پرونه يې د جهاد لپاره د «کفارو» پروړاندې له خولې څخه لاړې شيندلې، نن ورځ له ځلوېښتو څخه ډېرو «کافر» هيوادونو سره يې په مغازله کې د هغوی د بندګۍ پړی پر غاړه کې اچولی، د زرو په ځيرمه کولو او د دين په خرڅلاو کې بوخت دي؛ هره ورځ زموږ د هيوادوالو عام وژنه که څه هم د نيواکګرو لخوا او يا د دوی د روزل شويو ځانمرګو لخوا ترسره کيږي، زموږ خلک يې په وير کې کښينولي؛ د هيواد د ژوند په هره برخه کې د هراړخيز مافيا حاکميت؛ د نړۍ په تاريخ کې بې سارې فساد، پر مخدره توکو ولاړ اقتصاد؛ ۶۵ سلنه بيکاري او په سوداګرۍ کې له ۹۶ سلنې څخه ډېر کمښت، د افغانستان د خلکو ترخې بيلګې دي چې د ټولو ريښه د غويي له اوومې او اتمې څخه ده.

د «غويي اتمې» تنظيمي رهبران، د امريکا نيواکګر دولت ته په بندګۍ او عبادت کې دومره مخ پروړاندې تللي دي چې له افغانستان څخه د هغوی د ځواکونو له وتلو سره خپل ځان بې پلاره احساسوي، هڅه لري امريکا دې ته اړباسي، چې په افغانستان کې پاتې شي. ترڅو چې امريکا زموږ په هيواد کې شتون ولري، نشو کولای له سولې، سوکالۍ، ځمکنۍ بشپړتيا، بشري حقوقو او نورو انساني ارزښتونو څخه خبرې وکړو.

ليکن د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» ژمن دی چې د افغانستان د خلکو پرمټ او نورو  ملي، آزادي او پرمختګ غوښتونکو رښتينې ځواکونو سره اوږه په اوږه په هيواد کې د خپلواکۍ د ټينګولو، د نيواکګرو د بشپړ وتلو او د دوی د مزدورانو بې وسلې کولو او دغه راز د دموکراسي او عدالت د پلي کولو لپاره مبارزه وکړي.

## لنډ دې وي له افغانستان څخه د نيواکګرو لاسونه!
## لعنت دې وي د غويي د اوومې او اتمې پر ناورين رامنځته کوونکو!

## «د افغانستان د همبستګۍ ګوند»

د ۱۳۹۲ کال د غويي ۸ مه (د ۲۰۱۳ کال د اپريل ۲۸ مه)

info@hambastagi.org | www.hambastagi.org | 0093(0)700-231590